# آشنايي

ليكوال عمرننګيار-مسكو

دمنځيوزده کړوپه لړکې ورسره اشناشوم دغه اشنايي موترپخي ميني پوري ورسيده ان
وروسته دلوړوزده کړو دپای ته رسولو اوپه خپل مسلك كي دكارپه موده كې هم سره
موخوله په خوله ژوندتيروه په وروستيوكلونوكې يي راته زړه وهلي وٌ نورمې
دااحساسوه چې خواريږم اوخپله روغتيادلاسه وركوم.څوواري مې تصميم ونيوچې
ورنه ځان خلاص كړم اوتري جلاشم داكارمې څوځله وكړخوبياهم زړه مې
صبرنشو،څنګه مې كولای شوچې په يوه واري دخپل كلونوكلونودژوند ملګرې څخه
جداشم؟!اونوريي يادنكړم!خيرڅه موده نورهم كله پخلا اوكله جداموو‌خت تيركړيوه
ورځ مې چې دغه ورځ زمادژوند په تاريخ كې نه هيرېدونكي ورځ وګرځيده دتل
لپاره مې تل پاتي اوهميشني تصميم ونيوچې نوريي خوشي كړم اوهډوبه يي ياد
نكړم.دازمادژونداوسلامتيادښمن،هودناريته په شان مې هودترسره كړ،اوس زه پاتي يم
اودهغه هجران.
نوكه دزړه حال مې پوښتې كله يي چې دنوروسره ګورم ورته كړيږم په تيره بيا چې
كله يي خوله په خوله دچاسره وګورم زړه مې غواړي چيغې كړم چې
هوخلكو!!!دخدای لپاره تري لري شئ هغه خوايي وغورځوئ‌مه يي ښكلوئ په
شونډوكې يي زهردي.
خوويريږم چې څوك به مې خبره ونه منې ځكه زه څوك يم چې نوروته لارښود
شم؟!هرڅوك خپله عقل لري په خپلوښواوبدوښه پوهيږي ولی نه شي كولای چې
تصميم ونيسي چې سګرټ وڅكوې يانه ؟!

لڼه
شپه ده
څراغونه دي مات شوې
هركوردي غله وهلې
دغله په لاس څراغ دي
خلك غل لټوي.